مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی
۲۰۲۳ / ۰۱ / ۲۵

# د وجدان غږ

یو غږ به تل ځورولم، خو سرچینه مې نه شوه پیدا کولای.
لومړی مې فکر کاوه چې د غوږ پردې مې زیان لیدلی، خو د غوږونو ډاکټر ویل چې غوږونه دې روغ دي.
د وخت په تېرېدو سره هم دا غږ نه کمېده، بلکې وخت په وخت زیاتېده.
د شپې خوب کې مې هم زیات وخت دا غږ اورېده، خو کله چې به په همدې غږ راویښ شوم بیا به نه غږ وو او نه د غږ سرچینه.
کله چې به ځانته شوم له هر خوا به دا غږ راته، خو چې هر څو مې د غږ سرچینه لټوله، هغه مې نه شوه پیداکولای.
ګڼه ګونه کې مې هم له نورو پوښتل چې تاسې کوم غږ اورئ، ټولو به ویل چې نه، خو ما به هلته هم دا غږ اورېده.
که به مې هڅه وکړه د غږ سرچینه ومومم، دې احساس سره یوځای به غږ لا تېز شو، خو په سرچینه نه یې پوهېدم.
ډېر وخت وروسته وپوهېدم چې داسې غږ هم شته چې نه مادي سرچینه او نه ټاکلې فریکوینسي لري؛ هغه په غوږونو نه، بلکې په زړونو کې اورېدل کیږي او هغه د وجدان غږ دی!
پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ